روزل شوی نسل
نیکمرغه افغانستان

هفته نامه
معارف

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه
اوونيزه
سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۲۱ ماه میزان سال ۱۳۹۶

# د لاس مينځلو نړيواله ورځ د يوې غونډې په ترڅ کې ولمانځل شوه

د افغانستان د پوهنې وزارت د عامې روغتيا او کليو پراختيا او بيارغونې وزارتونو او يونيسف موسسې په همکارۍ په صابون او پاکو اوبو د لاس مينځلو نړيواله ورځ (زموږ لاسونه – زموږ راتلونکی) تر شعار لاندې د يوې لويې غونډې په ترڅ کې ولمانځله.

دغه غونډه د پوهنې د وزير ډاکټر اسدالله حنيف بلخي، د عامې روغتيا د وزير ډاکټر فيروز الدين فيروز، د کليو پراختيا او بيارغونې د وزير پوهنيار مجيب الرحمن کريمي، د يونيسف موسسې د استازو او يو ډېر شمېر ښوونکو او زده کوونکو په ګډون د کابل ښار په ملالۍ عالي لېسه کې جوړه شوې وه .

د پوهنې وزير ښاغلي ډاکټر اسدالله حنيف بلخي د ساري ناروغيو د مخنيوي او روغتيا ساتلو لپاره په صابون او پاکو اوبو لاس مينځل خورا مهم وبلل، زياته يې کړه:« زموږ په سپڅلي دين کې د علم پر زده کړه ډېر ټينګار شوی او ترڅنګ يې نظافت او روغتيا ساتل هم زموږ له ديني ارزښتونو څخه ګڼل شوی، چې د ځان، کورنۍ او ټولنې د سلامتيا په خاطر يې زده کړه لازمي ده.



ښاغلي بلخي د زده کوونکو د جسمي او رواني سلامتيا لپاره په ښوونځيو کې د صحي اوبو برابرول، د سټنډردو تشنابونو جوړول، ...

(۲مخ)

# د حرفې پربنسټ د سواد زده کړو نوي درسي کتابونه معرفي شول

د افغانستان د پوهنې وزارت د يونسکو په مالي او تخنيکي ملاتړ د حرفې پر بنسټ د ليک لوست نوي درسي کتابونه معرفي کړل. د حرفې پربنسټ د سواد زده کړو دغه کتابونه په لومړي ځل د سواد زده کړو په مرکزونو کې تدريسيږي. دغه نوي درسي کتابونه د پوهنې د وزير ښاغلي ډاکټر اسدالله حنيف بلخي، د سواد زده کړو د مرستيال ډاکټر سردار محمد رحيمي، د يونسکو او جايکا موسسو د استازو او يو شمېر نورو چارواکو په ګډون د يوې خبري غونډې په ترڅ کې معرفي شول .



د پوهنې وزير ښاغلي ډاکټر اسدالله حنيف بلخي د سواد ترڅنګ حرفوي زده کړې د خلکو د معيشتي ژوند په ښه والي کې خورا ارزښتناکې وګڼلې او د حرفې پر بنسټ يې ددغو کتابونو تاليف او چاپ يو مهم او حياتي ګام ياد کړ. نوموړي زياته کړه، چې دغه درسي کتابونه د سواد زده کوونکو د اړتياوو او هغوي ته د مالي ګټې رسولو په موخه تاليف او چاپ شوي، چې د يو شمېر ولايتونو په سواد زده کړو مرکزونو کې به په لومړي ځل تدريس او له هغه وروسته به د سواد زده کړو نورو مرکزونو ته هم دغه لړۍ وغځيږي.

د سواد زده کړو مرستيال ډاکتر سردار محمد رحيمي هم د سواد زده کوونکو د کورنيو د...

(۲مخ)

# دومین کنفرانس ملی ناشنوایان برگزار گردید

این کنفرانس که به مناسبت هفته جهانی ناشنوایان تحت عنوان « چطور ناشنوایان را در بخش‌های تعلیم و تربیه و شغل‌یابی برای آینده بهتر کمک نماییم» از سوی انجمن ملی ناشنوایان افغانستان و معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی در تالار کنفرانس‌های این معینیت برگزار شده بود .

پوهندوی رحیل‌محمد فرملی، در مورد ارتقاء حقوق ناشنوایان، حق استفاده از زبان اشاره، دسترسی به موقعیت های برابر و داشتن جایگاه اجتماعی ناشنوایان در زندگی و هفته جهانی ناشنوایان صحبت نموده گفت: در حال حاضر در سراسر کشور ۱۱ باب مکتب تعلیمات خاص ( لیسه‌های مسلکی نابینایان و ناشنوایان) در چوکات معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی فعالیت دارند.

اما این معینیت برنامه دارد که در سال تعلیمی ۱۳۹۷ هجری خورشیدی تعداد این مکتب‌ها را افزایش داده و مکتب‌های فعال را با امکانات و وسایل بهتر مجهز نماید.

همچنان معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی افزود: ناشنوایی ناتوانی نیست و ما تلاش داریم که در سال آینده بتوانیم مرکزهای مشاوره شغلی را به کمک‌های مالی و تخنیکی نهادهای کمک کننده این معینیت، در شماری از لیسه‌های



نابینایان و ناشنوایان ایجاد نمایم، تا فارغان...

(ص۲)

## پوهنې وزارت د نجونو نړيواله ورځ ولمانځله

د افغانستان د پوهنې وزارت له يونيسف نړيوالې ادارې سره په ګډه د نجونو له نړيوالې ورځې د يوې غونډې په ترڅ کې لمانځنه وکړه. د نجونو د ورځې دا لمانځغونډه د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو په مرکز کې (زده کړو ته چمتو، ژوند ته چمتو) تر شعار لاندې د پوهنې وزارت د عمومي زده کړو د مرستيال ډاکټر محمد ابراهيم شينواري، د ښوونکو د روزنې او نصاب مرستيال ډاکټر اسدالله محقق جهاني، د اړيکو او عامه پوهاوي د رييس پوهنيار محمد کبير حقمل، د ښځو چارو وزارت مرستيالې مېرمن سپوږمۍ وردګ، په کابل کې د ناروې سفيرې مېرمن ماري ساکر، د يونسيف موسسې استازې مېرمن ډينس او يو شمېر نورو چارواکو په ګډون جوړه شوې وه.

د پوهنې وزارت د عمومي زده کړو مرستيال ډاکټر محمد ابراهيم شينواري د نجونو د ورځې د رارسېدو له امله ټولو نجونو ته مبارکي وويله او دا ورځ يې د هغوی د اساسي حقوقو د ترلاسه کولو په برخه کې مهمه وبلله. ښاغلي شينواري د نجونو پر زده کړو د ټينګار ترڅنګ ډاډ ورکړ، چې د هېواد په ټولو سيمو کې به نجونو ته د متوازنو او باکيفيته زده کړو اسانتياوې برابرې کړي...

(۲مخ)

## سیمینار خلاقیت سازمانی دایر گردید

دور اول سیمینار دو روزه خلاقیت سازمانی برای کارمندان معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی دایر گردید.

درین سیمینار که ۴۰ تن از کارمندان معینیت مذکور در آن اشتراک دارند طی دو روز سیمینار در رابطه به موضوع « عوامل تأثیر گزار بر خلاقیت و نو آوری در مدیریت» معلومات سودمندی بدست خواهد آورد.

گفتنی است که سیمینار مذکور طی سه دوره دایر می گردد که جمعاً به تعداد (۱۲۰) تن کارمندان آموزش ها و راهکارهای خلاقیت در مدیریت را فرا خواهند گرفت.

سرمقاله:

# سواد، علم او پوهه د ژوند د لارې بله ډیوه ده

انسانانو د خپل ژوندانه له هماغه لومړیو پړاوونو څخه دېته اړتیا درلوده، چې خپلې تجربې او پیښې له خپلو راتلونکو نسلونو سره شریکې کړي یا د پخوانیو انسانانو له تجربو، پوهې او کړو وړو څخه خبرتیا تر لاسه کړي له همدې امله لومړنیو انسانانو هڅه کړې چې د یوې وسیلې په کارولو سره خپلې، غوښتنې او تجربې نورو ته انتقاَل یا د راتلونکو نسلونو لپاره ثبت کړي، څو د دوی له تجربو څخه په ګټه اخیستلو پر مخ لاړ شي، انسانانو په لومړي سر کې د شکلونو په رسمولو خپله مفکوره نورو ته لیږدوله چې نوموړو شکلونو او څېرو د غم، ښادي، ښکار کولو یا داسې نورو مسئلو استازیتوب کاوه؛ یادو شکلونو چې د لیک حیثیت یې درلود پراختیا وموندله او د صوتونو د ثبت لپاره علامې او نښې وټاکل شوې او په دې توګه د خط او کتابت لپاره لاره خلاصه شوه. نوموړی خط او کتابت تر ډېرې اوږدې زمانې پورې په حاکمه طبقه کې منحصر پاتې و او د انساني ټولنې عام خلک له هغه څخه محروم و، په هر صورت ډېره اوږده زمانه تېره شوه؛ څو خط او کتابت عام شو او دغه لړۍ د انساني ټولنې نورو غړو ته وغځېده او د ټولو په اختیار کې ورکړل شوه، په اوسنیو شرایطو کې علم او پوهه چې د خط او کتابت پرمختللې بڼه یې ګڼلی شو د حاکمو او مستکبرو ملتونو په واک ا و اختیار کې ده، واړه او ضعیف ملتونه له هغه څخه محروم دي، د دنیا ستر او د علم او پوهې خاوندان ملیتونه له همدغې وسیلې څخه په کار اخیستلو سره واړه او په تعلیمي لحاظ وروسته پاتې ملیتونه تر خپل یوغ لاندې ساتي او د هغو د لاس مزد او شتمني ورڅخه لوټي او د ځمکې په مخ خپله باداري او سرداري چلوي،نو همدا وجه ده چې لیک او لوست او د علم او پوهې لاسته راوړل د انسانانو په تېره د هغو کسانو او ټولنو لپاره چې ورڅخه محروم پاتې دي یو ډېر مهم ضرورت دی او هر هغه ملت او کس چې ورڅخه محروم وي د تل لپاره به د نورو د لاس آله او د خولې مړی به یې د بل چا وي.

په اوسنۍ نړۍ کې چې لیک لوست، علم او پوهه د یو حیاتي ارزښت په توګه تبارز موندلی هیڅ تـه ممکنه نه ده، چې له دې پرته د ژوند چارې سمې سمبال کړي او آرام ژوند ولري، د انساني ټولنې د ټولو پرمختګونو راز د سواد، علم او پوهې په لاسته راوړلو کې نغښتی دی، بې سواد کسان د ړندو حیثیت لري او ړانده هیڅکله د ژوندانه اصلي موخو ته د رسېدو توان نشي موندلای.

ګرانو زده کوونکو او درنو استادانو! هر ملت که غواړي چې په نړۍ کې سرفرازه ژوند وکړي، آزاد او خپلواک و اوسي او نورو ته یې لاس اوږد نه وي؛ نو ورته ښایي چې د علم او پوهې ډېوه بله وساتي او د علم او پوهې په لاسته راوړلو او عاملو چې لومړی قدم یې د لیک او لوست زده کړه ده خپل ځان او خپله ټولنه د ناپوهي او بې سوادي له بلا وژغوري او د علم او پوهې په ډېوه یې تیاره زړونه روښانه کړي، موږ ډېر اوږد واټن لا په مخکې لرو چې باید لنډ یې کړو، د نوموړي واټن د لنډولو لپاره باید شپه او ورځ زده کړه وکړو او یوه شېبه هم بیکاره تېره نکړو، ترڅو هغه اوږده موده مو چې په خوب ویده تېر کړې جبران کړی شو. د ژوندانه هغه بدمرغه بهیر چې موږ نن ورڅخه تیریږو د نړۍ هیوادنو لا پخوا تیر کړی دی، دا د ژوند طبعي بهیر دی، د جنګ او جګړو ورځې به خامخا تیریږي او موږ به مقصد ته رسیږو، د راتلونکي په فکر کې اوسئ او د هغه لپاره واکمن او ځواکمن قدمونه پورته کړئ نوموړي قدمونه د علم، پوهې او سواد زده کړې او له دې لارې د خپل هیواد اقتصادي، سیاسي، فرهنګي او علمي شتمني خوندي کول، د خپل هیواد د ملي اقتصاد پیاوړي کول، په ځان بسیاینه او د ملي نوامیسو ساتنه او پالنه ده. چې هسکو او لوړو څوکو ته یې غځېدلې لارې د علم، پوهې او سواد له پولو تیریږي.

د لومړي مخ پاتې

## د لاس مینځلو نړیواله ...

د ښځینه زده کوونکو لپاره د حفظ الصحي اسانتیاوو برابرول، د اوسپنې او فولیك اسید ټابلېټو وېش، د پیغامونو د خپرېدو له لارې د ساري او مکروبي ناروغیو د خپرېدو مخنیوی او په دې برخه کې د ورکشاپونو او کمپاینونو جوړول د پوهنې وزارت له مهمو او اساسي دندو څخه وګڼل، چې په وینا یې په یادو برخو کې ښې لاسته راوړنې لري .

نوموړي له عامې روغتیا، حج او اوقافو او کلیو پراختیا وزارتونو، یونیسف موسسې او نورو اړوندو کورنیو او بهرنیو بنسټونو څخه مننه وکړه، چې په دې برخه کې له پوهنې وزارت سره مرسته او همکاري کوي .

د عامې روغتیا وزیر ډاکټر فېروز الدین فېروز د نظافت او روغتیا ساتلو په برخه کې هر اړخیزې تخصصي څرګندونې وکړې، زیاته یې کړه: په کلني ډول شاوخوا ۷،۱ میلیارده کسان په ساري ناروغیو اخته کیږي، چې ۷۰ سلنه دغه ناروغۍ د لاس په واسطه له یوه انسان بل انسان ته انتقالیږي. نوموړي زیاته کړه، په صابون لاس نه مینځل په ځانګړي ډول له رفع حاجت وروسته او له ډوډۍ خوړلو مخکې د میکروبونو د انتقال سبب کیږي، چې په پایله کې ماشومان په خوارځواکۍ اخته او له روغتیایي پلوه نیمګړي لویږي.

د کلیو پراختیا او بیارغونې وزیر ښاغلي مجیب الرحمن کریمي په دې برخه کې د یاد وزارت د فعالیتونو په اړه خبرې وکړې په ښارو او کلیو او بانډو کې یې د صحي اوبو پر برابرولو د ټینګار ترڅنګ یادونه وکړه، چې تر ۲۰۲۰ میلادي کاله به د هېواد کلي او بانډې صحي اوبو ته لاسرسی ولري.

د یونیسف موسسې استازي هم د زده کوونکو ترمنځ په صابون د لاس مینځلو په اهمیت خبرې وکړې او په دې برخه کې یې له پوهنې وزارت سره د هر ډول مالي او تخنیکي مرستو ژمنه وکړه .

د یادولو وړ ده، چې د لاس مینځلو نړیواله ورځ له ۲۰۰۸ کاِل راهیسې د وژونکو ساري ناروغیو د مخنیوي او روغتیا ساتنې په موخه د نړۍ له سلو په ډېرو هېوادونو کې لمانځل کېږي. د افغانستان د پوهنې وزارت هم هر کاَل په ښوونځیو کې د زده کوونکو ترمنځ د عامه پوهاوي په موخه له دې ورځې یادونه کوي، څو زده کوونکو ته وښودل شي، چې په صابون او پاکو اوبو لاس مینځل په ځانګړي ډول له ډوډۍ خوړلو مخکې او له رفع حاجت وروسته د ناروغیو د مخنیوي او روغتیا ساتلو تر ټولو آسانه، ارزانه او ګټوره لاره ده.

د لومړي مخ پاتې

## د حرفي پربنسټ ...

اقتصادي وضعیت د ښه والي په برخه کې حرفوي زده کړې تر ټولو مهمې او ګټورې وبللې، زیاته یې کړه، هغه هېوادوال چې د بېلابېلو دلایلو له امله د علم له نعمت څخه بې برخې شوي اوسمهال کولای شي د سواد زده کړو ترڅنګ د خپل مالي وضعیت د ښه کیدو په موخه یوه حرفه هم زده کړي، چې نه یوازې ددوی د کورنیو د مالي وضعیت په ښه والي بلکې د هېواد په اقتصادي وده او پیاوړتیا کې هم مهمه ونډه لرلی شي. د ښاغلي رحیمي په وینا، چې ددې پروګرام له پلي کېدو سره به په کاري مارکېټ کې د بې کارۍ کچه هم راټیټه شي. د تمویل کوونکو موسسو استازو هم په خپل وار د موضوع په اړه خبرې وکړې او د حرفي پربنسټ یې د سواد زده کړو نوی درسي نصاب د سواد زده کوونکو لپاره ګټور وباله او دایې سواد زده کړو ته د خلکو د هڅونې په برخه کې یوه مهمه لاره چاره وګڼله.

د لومړي مخ پاتې

## پوهنې وزارت د ...

د پوهنې وزارت مرستیال زیاته کړه، په پام کې ده، چې پوهنې وزارت په لومړي ځل له یونیسف موسسې سره په ګډه متوازنو او باکیفیته زده کړو ته د نجونو د لاسرسي ستراتیژي تدوین کړي او دغه راز به د راتلونکو پنځو کلونو په ترڅ کې د هغو نجونو لپاره چې د یو شمېر دلایلو په ځانګړي ډول د ښځینه ښوونکو د نشتون له امله له زده کړو لرې پاتې دي؛ ۳۰ زره نوي ښوونکي استخدام کړي. د ښوونکو د روزنې او نصاب مرستیال ډاکټر اسدالله محقق جهاني په ټولنه کې د ښځو او نجونو د لوړ مقام او د هغوی د زده کړو او نورو اساسي حقونو په اړه خبرې وکړې، زیاته یې کړه، پوهنې وزارت ټل هڅه کړې چې د نجونو د زده کړو پر وړاندې شته ستونزې او خنډونه له منځه یوسي او په ټول هېواد کې نجونو ته د باکیفیته او متوازنو زده کړو اسانتیاوې برابرې کړي. د ښځو چارو وزارت مرستیالې مېرمن سپوږمۍ وردګ، کابل کې د ناروې سفیرې مېرمن ماري ساکر او د یونیسف موسسې استازې مېرمن ډېنس هم د نجونو پر زده کړو ټینګار وکړ او په دې برخه کې یې له پوهنې وزارت سره د هراړخیزې همکارۍ ژمنه وکړه. ملګرو ملتونو په ۲۰۱۲ کاَل کې د اکتوبر ۱۱ مه د نجونو نړیواله ورځ ونوموله او له هغه راهیسې دا ورځ د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د نجونو د بشري حقوقو د تحقق او د هغو اړتیاوو او ننګونو د له منځه وړلو په موخه چې نجونې ورسره مخ دي، نمانځل کیږي.

بقیه صفحه اول

## دومین کنفرانس...

لیسه‌های نامبرده فرصت یابند که از طریق این مرکزها به شغل و وظیفه دست‌یافته و توانایی‌های خود را در امر خدمت به فامیل و جامعه به نمایش بگذارند.

آقای فرملی در بخشی از سخنانش گفت: ما طرفدار به کار بردن واژه‌های نابینان و ناشنوایان در ادبیات نظام معارف کشور نیستم؛ چون بکار بردن این واژه‌ها ممکن است به روان ناشنوایان و نابینایان عزیز صدمه وارد نماید و برا ی رفع این چالش در نظر داریم سال آینده نام لیسه‌های مسلکی نابینایان را که در چوکات معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی فعالیت دارند به لیسه‌های مسلکی «روشن دلان» تغییر دهیم .

آقای فرملی از محترم سمیع حامد، شاعر نامدار و نویسنده چیره‌دست کشور که در این کنفرانس حضور داشت خواست که در قسمت معادل‌سازی واژه «نابینایان» معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی را همکاری نمایند و کلمه‌یی را دریابد که بتواند مفهموم نابینایان را افاده نموده و در روحیه‌دهی به این قشر جامعه کمک نماید.

در این کنفرانس اعضای مجلس سنا، محترم دستگیر منیر مشاور مقام وزارت معارف، عبدالغفار مهمند رییس انجمن ناشنوایان افغانستان، رییس و نمایندگان کمیته ناروی، فرهنگیان، شاگردان لیسه‌های مسلکی ناشنوایان مرکز و ولایت‌ها و والدین آنان نیز اشتراک کرده بودند.

د ځلورم مخ پاتې

## د ماشومانو د...

چې د هیواد بچیانو ته د زده کړې د سالم او خوندي چاپیریال په برابرولو کې ژمن دی له بله پلوه په ښوونځیو کې یې هم د پوه او تکړه کادرونو په ګمارنې سره خپله رغنده ونده سرته رسولې ده او د یوه متوازن ښوونیز چاپیریال په رامنځته کولو سره یې د ښوونې اوروزنې ستنې کلکې کړې دي او له درنو کورنیو څخه هم په کلکه غوښتنه کوي چې له دوی سره د دغه ستر او درونde پیټي په پورته کولو کې مرسته وکړي خپل ماشومان په تیره نجونې ښوونځیو ته واستوي او د هغو په سالمه ښوونه او پالنه کې د پوهنې وزارت سره همغږي واوسي

## ځي راځي

تصویر مې د لیلا په زړه مغزو کې ځي راځي
د سرو وینو په شا نې مې رګو کې ځي راځي
یوه لحظه مې نه پرېږدي ارام تـه چې یې وکړم
په ویښه خو لا څه کې په خو بو کې ځي راځي
په داسې رنځ اخته شوم په علاج یې نه پوهیږم
د حسن ښاپیری مې خاطرو کې ځي راځي
ټول زړه یې زما نیولی راته ښکاري لیونی شوم
ودانه رانـه پا تې دشت او غرو کې ځي راځي
نور خلك ټول ارام دي کار او بار کوي بې غمه
د سـولې توتکۍ د دوی ملکو کې ځي راځي
هیڅ خو په لاس درنغلل روغواله زړه دې وسوو
د سوي زړه لوګي دي اسویلو کې ځي راځي

رالیږونکی: محمد عباس

## غربت

مـا کـه در شـهر شـما خانـه بـه دوشـیم هنـوز
ز ان سـبب بـا همـه کـس هـیچ نجوشـیم هنـوز
اهـل دل را چـه نشـان اسـت زسـودای جهـان
کهنـه خـویش بـه قصـری نفروشـیم هنـوز
سا قـی از دیـده شـد سـت دور نـه جـام ونـه مـی
جـام مـی را ز کـف هـر کـی نـه نوشـیم هنـوز
مـا فتـا د یـم درایـن گوشـه وزآن دلشـادیم
هـر قـدر نشـه کـه بـا شـیم بـه هـو شـیم هنـوز
هـر کسـی لـب بـه کشـا یـد سـخن از پـول زنـد
مـا کـه سـر مایـه نـداریم خموشـیم هنـوز
آنچـه را مانـده بمـا از پـدران در تـن ماسـت
مـا بـه تـن جامـه هـر غیـر نپـو شـیم هنـوز
گـر چـه از محفـل یـا ران شـده ایـم بـی بهـره
لیکـین از دور بـه احسـاس وخروشـیم هنـوز
ایـن حبیـب هـیچ نرنجـد زقضـا و ز قـدر
هـردم آمـاده بـه هـر پیـک سروشـیم هنـوز

ارسالی: عبدالنجیب

## خطر ناک ترین چیز برای خانواده

خطر ناک ترین چیز برای خانواده این است که والدین بین فرزندان در دوست داشتن و چشم پوشی از اشتباهات آنان فرق گذارند. و خطرناک تر از آن این است که اعلام کنند که یکی از آنها بدشان می آید و دیگری را دوست دارندکه آن باعث پاشیدن بذر دشمنی بین برادران وخواهران است که ثمرۀ آن بعد از رشد نمایان می گردد. که این عمل شان گاهگاهی به دشمنی نیز می انجامد.

ارسالی: عزیر

## سخنان بزرگان در مورد آموزش

| | |
|---|---|
| اشتیاق‌تان برای یادگیری توسعه دهید، تا هرگز در راه رشد و تعالی متوقف نشوید. | آنتونی جی. دی آنجلو |
| تا زمانی که زندگی می‌کنید، یاد بگیرید که چگونه زندگی کنید. | لوسییوس آنائوس سنکا |
| هر کس درب مدرسه ای را باز کند، درب زندانی را بسته است. | ویکتور هوگو |
| ریشه های آموزش تلخ، اما میوه هایش شیرین است. | ارسطو |
| نادان کسی است که آموزش را حقیر بشمارد. | پوبلیوس سیروس |
| دیدن زیاد، درد و رنج زیاد و مطالعه زیاد سه ستون یادگیری هستند. | بنجامین دیسرایلی |
| آموزش انسان‌ها بدون اصول اخلاقی، تهدیدی برای جامعه است. | تئودور روزولت |
| یاد دادن یادگیری دوباره است. | ژوزف ژوبر |
| دانشی که همراه با اجبار کسب شود در ذهن نمی‌ماند. | افلاطون |
| به همان اندازه که زنده از مرده متفاوت است، تحصیل کرده از بی سواد متفاوت است. | ارسطو |
| تعصب فرزند جهل است. | ویلیام هزلت |
| زیبایی یادگیری در این است که کسی نمی‌تواند آن را از شما دور کند. | رایلی کینگ |
| هرگز کسی (حتی بسیار نادان) را ندیدم که نتوانسته باشم چیزی از او یاد بگیرم. | گالیله |
| اگر نتوانید موضوعی را به سادگی توضیح دهید، در حقیقت آن موضوع را درست نفهمیده اید. | آلبرت اینشتین |
| طوری زندگی کنید که انگار فردا قرار است بمیرید و طوری یاد بگیرید که انگار برای همیشه زنده خواهید ماند. | ماهاتما گاندی |

ارسالی: زمزمه

## درې رواجونه او یوه نړۍ غمونه

سرمؤلف مرستیال استاذ عنایت الله (عادل)

لکه څنګه، چې اسلام د سالمې او سوکاله ټولنې ارونه (اصول) ایښي، بشپړه پلي کېدنه یې د هوسا، بسیا او کامیابې ټولنې ضمانت کوي، څومره چې اسلامي اخلاق او تګلارې په پام کې نیول کیږي هومره به د امن، او سلامتیا فضا را منځته کیږي او دا په عملي توګه په اثبات رسېدلې، چې له دغه اصولو نه یوه سر غړونه ټوله ټولنه اغېزمنوي، دا چې موږ د یوې داسې اسلامي ټولنې خلك یو، چې تر هرچا زیات دغه اسلامي اصولو ته غاړه ایږدي او پدې لار کې یې بې دریغه قرباني نذرانه کړې، دا ضروري او اړینه ده، چې په خپل ټولنیز ژوند کې ددغه اسلامي معیارونو په پوره پلي کیدو سره هغه سوکالي خپله کړو چې اسلام یې ژمنه کړېده، له همدې ځایه غواړم د خپلې ټولنې د هغه دودونو یادونه وکړم، چې زموږ په ټولنه کې یې ډېرې ناخوالې را منځته کړې، زموږ د خوښۍ او خوشالۍ مخه یې ډب کړېده اویو لړ غمونه یې را ټوکولي دي.ځینې رواجونه دي چې په اسلام کې څه اصل نه لری خو د خلکو تر منځ یې قانوني بڼه غوره کړېده.

په لاندې کرښو کې د دریو رواجونو یادونه کوو چې زموږ په ټولنه کې شتون لري:

### په مړي پسې خیرات

له دې رواجونو څخه یو هم د مړي د لومړۍ شپې خیرات دی، په اسلام کې یو مسلمان پر بل مسلمان دا حق لري چې په جنازه کې یې ګډون وکړي او دعا ورته وکړي نه داچې د غم په هغه ګرمو شپو کې یې ډوډۍ ته هم ناست وي او د (اسقاط) په نامه پیسې هم ورځنې واخلي، زموږ په ټولنه کې خو دغه موضوع د تربګنۍ او سیالۍ بڼه غوره کړېده هېڅوك یې له بل نه ټیټه نه وایي، ډېر ځله داسې پېښېږي چې د مړي د فقر او مسکینۍ له امله په کور کې سپېره دوړه نه وي، بچیان یې په شپو شپو وږي ګرځي، خو ورثه یې د خپل نامه او سرلوړۍ په خاطر په لوړه پیمانه لګښتونه کوي، څمکه، پوله او پټی یې ګرووي او یاپې په سود او قرضه پیدا کوي، خو خیرات او اسقاط نه پرېږدي، پدې سره د بېوزله کورنۍ، کونډې او یتیمانو یو غم دوه بلکې ډېر شي، د مړي غم او ویر یوه خوا او د مله ماتوونکو قرضونو دروند پېټی بله خوا، دا درانه پوروونه او قرضونه بېوزله کورنۍ د بې شمېره غمونو، کړاوونو او ستونزو ژورې کندې ته ور ټېل وهي، په کور کې واړه معصوم یتیمان له یوې خوا د پلار د مهربانې سیورې څخه بې برخې شي او له بلې خوا د ربړو په دام کې را ښکېل شي، حق یې دا وي چې زده کړه وکړي، پوهه ترلاسه کړي او د خپل غوره برخلیك لپاره کار وکړي، مګر مخه یې ستونزواو قرضونو بنده کړې وي. د اولې ورځې د خیرات په هکله موږ په اسلام کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم لارښوونه لرو کله چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د تره زوی حضرت جعفر رضی الله عنه شهید شو نوویې فرمایل: تاسې دهغه له کورنۍ سره غمرازي وکړئ. په دې مانا چې تاسې د هغه ډوډۍ مه خورئ بلکې تاسې مرسته ورسره وکړئ، خو موږ دا عیب ګڼوچې خلکو ته ډوډۍ او اسقاط ورنه کړو او خلك هم دا نه خوښوي، چې څه ونه خوري اوان تردې چې د مړې خاوند وایې: که زه دا کار ونکړم نو زما د دروازې رنګه بدېږی؟! چې داخبره د سقات او اولې ورځې د ډوډۍ داثبات ښکاره دلیل دی. دا متل چې وایې: مصرف دې وشه د مړي په اروا پسې دې ومه رسه، نو دا زموږ خلك ولې بې ځایه مصارف کوي؟! سمه ده که چېرې غواړې یوڅو ورځې وروسته یې د بیا وکړي.

**(پاتې په راتلونکي ګڼه کې)**

## مولوي امیرخان متقي د پوهنې اوه دیرشم وزیر

ګل آغا احمدي وردګ

ښاغلی مولوي امیرخان متقي د لوګر ولایت اوسېدونکی دی خو عمر یې په هلمند ولایت کې تېر شوی چې د ۱۳۷۷ کال څخه تر ۱۳۸۰ کال پورې د افغانستان د پوهنې وزیر وو چې په افغانستان کې طالبانو د اسلامي امارت تر نامه لاندې حکومت او نظام جوړ کړی وو. امیرخان متقي دیني تعلیم کړی او په هېواد سر بېره یې د لوړو دیني زده کړو یوه برخه د فراه ولایت په حقانیه مدرسه کې سر ته رسولې او د طالبانو د تحریك په جوړېدو کې یې مهمه ونډه درلودلې



چې په خپل وخت کې د نومړي حرکت ویاند هم پاتې شوی دی. امیرخان متقي نه یوازې د پوهنې بلکي له هغه څخه د مخه د افغانستان د اسلامي امارت د اطلاعاتو او کلتور وزیر هم تېر شوی د طالبانو د واکمنۍ پر مهاَل د افغانستان پوهنیز نظام ژړونکې بڼه درلوده او د هېواد په ځینو ولایتونو کې ښوونځي فعال وو. همدارنګه په دې وخت کې هڅه وشوه چې د ښوونځیو نوم په مدرسه بدل شي، طالبانو په همدې ډول هڅه وکړه چې په تعلیمي موسساتو کې دیني مضمونونه زیات کړي طالبانو همدارنګه د ښځو او نجونو په تعلیم د بطلان کرښه را کش کړه او لـه ۱۳۸۱ کال د مخه د پوهنیزو موسساتو، ښوونکو او زده کوونکو شمېر د ټول هېواد په کچه یو میلیون کسانو په حدودو کې نارینه زده کوونکي موجود وو چې په ۳۴۰۰ تعلیمي موسساتو کې د ۲۰۰۰۰ ښوونکو له خوا تدریس ورته ورکول کېده، معیاري نصاب او کتاب نه وو، د ښوونځیو تعمیرات نړېدلي او سخت زیانونه ورته رسېدلي وو.

Weekly Marif Newspaper

Established 2002, Issue No 221, Month October 2017

Ministry of Education Cultural and Social Issue

# نخستین کنفرانس ملی اصلاحات در تعلیمات تخنیکی و مسلکی برگزار گردید

این کنفرانس با اشتراک پوهندوی رحیل محمد فرملی معین تعلیمات



تخنیکی و مسلکی وزارت معارف، محترم کورت لارسن نماینده ارشد بانک‌جهانی در افغانستان، آقای دستگیر منیر مشاور مقام معینیت، روسای و آمرین معینیت، آمرین تخنیکی و مسلکی تمام ولایت‌ها، آمرین دیپارتمنت‌ها و مدیران تدریسی انستیتوت‌های هشت رشته‌ی دارای اولویت در تالار مرکز ساینس برگزار شد.

انتخاب چهار انستیتوت پیشتاز در هشت رشته دارای اولویت، ارزیابی استادان انستیتوت‌های تعلیمات تخنیکی و مسلکی و زمینه‌سازی جهت ارتقای ظرفیت آنان در داخل و بیرون از کشور، از اهداف اساسی برگزاری کنفرانس ملی اصلاحات در تعلیمات تخنیکی و مسلکی می باشد . معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت معارف در نظر دارد که بایک چرخش موثر در روند تعلیمات تخنیکی و مسلکی به سمت حرفه‌های دارای اولویت، ارزیابی استادان مسلکی، ارتقای شایسته‌گی استادان از طریق آموزش‌های معیاری، توسعه آموزش داخل خدمت در کشور و اصلاح نصاب تعلیمی، اصلاحات را در تعلیمات تخنیکی و مسلکی به وجود بیاورد. بربنیاد این برنامه چهار انستیتوت پیشتاز در هشت رشته‌ی دارای اولویت (اگرانومی، هارتی‌کلچر، اداره و تجارت، محاسبه، نفت و گاز، کامپیوتر، ترمیم موتر، ساختمان‌های صنعتی و مدنی) انتخاب شده و به عنوان انستیتوت‌های مادر تجهیز می‌شوند. ظرفیت این چهار انستیتوت با گزینش استادان تخنیکی و ماهر، توانمندسازی این انستیتوت‌ها از طریق بهبود مدیریت و خود مختاری مالی، نوسازی تجهیزات و توجه به زیربناهای آنها بلند برده خواهد شد.

پوهندوی رحیل‌محمد فرملی معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت معارف، در سخنرانی‌اش در این کنفرانس از ادامه کمک های بانک جهانی و سایر نهادهای کمک کننده با این معینیت ابراز قدردانی نموده و بر ادامه این کمک‌ها تأکید کرد.

آقای فرملی در ادامه صحبت‌هایش، برگزاری امتحان اختصاصی کانکور معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی، برنامه «استاد-شاگردی»، امضای تفاهم نامه همکاری با انجمن صنایع افغانستان، ارزیابی استادان انستیتوت‌های تعلیمات تخنیکی و مسلکی و ارتقای ظرفیت آنان، فعالیت‌ها در بخش زراعت و ایجاد مرکزهای مشاوره شغلی برای محصلان انستیتوت‌های تعلیمات تخنیکی و مسلکی و بازنگری نصاب تعلیمی برخی رشته‌های انستیتوت‌های تعلیمات تخنیکی و مسلکی را از کارکردهای این معینیت عنوان کرد. معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی، اصلاحات در تعلیمات تخنیکی و مسلکی، بازنگری بیشتر نصاب درسی انستیتوت‌های تعلیمات تخنیکی و مسلکی، برگزاری امتحان اختصاصی کانکور معینیت در سال آینده به هدف شناسایی بهتر گروپ‌های مورد هدف، ارتقای ظرفیت استادان و تطبیق برنامه "سی بی آر" را در اداره‌های مربوط معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی، از اولویت های کاری‌اش برای آینده بر شمرد.

آقای فرملی در بخشی از سخنرانی اش گفت: " معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی از کمک های بانک جهانی ستایش می کند.

ما به آوردن اصلاحات در بخش تعلیمات تخنیکی و مسلکی نیاز داریم و در این بخش بازهم به کمک بانک‌جهانی و سایر دونرهای کمک کننده معینیت نیاز است تا نصاب آموزشی بازنگری شود و فارغان انستیتوت‌ها در بازار کار رقابت بتوانند و ظرفیت استادان انستیتوت‌های تعلیمات تخنیکی و مسلکی نیز ارتقا داده شوند".

در بخش دیگر این کنفرانس، محترم کورت لارسن نماینده ارشد بانک‌جهانی در افغانستان درباره نیاز آوردن اصلاحات در تعلیمات تخنیکی و مسلکی صحبت کرد و آن را یک نیاز جدی عنوان کرد.

این مقام بانک جهانی در افغانستان تأکید کرد که در حال حاضر (۱.۴ میلیون) جوان بین ۱۵ تا ۱۹ سال از آموزش‌های رسمی بیرونند هستند و باید زمینه آموزش برای آنان فراهم شود.

کورت لارسن، انتخاب انستیتوت‌های پیشتاز، هماهنگ ساختن برنامه‌های آموزشی را مطابق نیاز بازار کار، ارتقای ظرفیت استادان و به روز ساختن نصاب تعلیمی انستیتوت‌های تعلیمات تخنیکی و مسلکی را از اولویت‌ها برای آوردن اصلاحات در تعلیمات تخنیکی و مسلکی عنوان کرد.

آقای لارسن در بخش از توضیح برنامه اصلاحات در تعلیمات تخنیکی و مسلکی گفت: " اصلاحات در تعلیمات تخنیکی و مسلکی معارف افغانستان یک نیاز است، این نیاز بخاطری‌ست که از آموزش‌های این انستیتوت‌ها باید همسان با اولویت‌های تجارتی و نیازبازار کار باشند و نیز علاوه بر بازنگری نصاب آموزشی، ظرفیت استادان از طریق آموزش در داخل و بیرون از افغانستان بلند برده شود".

ارزیابی استادان انستیتوت‌های تعلیمات تخنیکی و مسلکی یک بخش اساسی برنامه اصلاحات در تعلیمات تخنیکی و مسلکی است که بربنیاد آن، از میان ۲۸۰۰ تن استاد تعلمیات تخنیکی و مسلکی، برای ۳۰۰ تن آنها دارای مهارت‌های بلند، زمینه آموزش یک ساله در کشور هند فراهم خواهد شد و نیز برای ۲۵۰۰ تن آنان حد اقل زمینه آموزش سه‌ماهه در انستیتوت‌های پیشتاز در داخل کشور فراهم می‌شود.

# د ماشومانو د شخصیت وده په کورنۍ کې

د ماشومانو د شخصیت وده او پرمختګ چې پرته له شکه دماشوم او ټولنې راتلونکی پورې تړلې دی یوله لومړیتوبونو څخه ګڼل کیږي نو ویلای شو چې کورنۍ د ماشومانو لپاره د تربیت لومړنی ځای او دهغوی د شخصیت د ودې لپاره اساسي بنسټ دی چې میندې او پلرونه باید په جدي توګه ورته پام وکړي. په یوه کورنۍ کې د ماشوم لپاره د پلار، مور او د کورنۍ د نورو غړو کړه وړه نیغ په نیغه په صفاتوڅخه خلاصون مومي او د سعادت او خیر په اخلاقي ښو فضایلو سمبالیږي اخلاقي روزنه بیلا بیلې برخې لري چې یوه برخه یې په کړنوکې داعتقادونو او باوروونورا منځته کول دي اخلاقي روزنې بله برخه دا ده چې، یوکس وتوانیږي چې دغه اصول او قواعد په خپلو کړنو کې وکاروي دریمه برخه یې دا ده چې، خپل د ننه( بیروني) او بهرني حالاتو مراقبت وکړي په دغه برخه کې انسان مخکې له دې



ماشوم اثر کوي او هر هغه څه چې دوی یې ترسره کوي د ماشوم لپاره یو مثاَل وي. د تربیتي روانشناسۍ پوهان وايي: کورنۍ یوه ټولنیزه ډله (social group)ده، چې غړي یې د نسب، واده ، اولاد او داسې نورو په وسیله پیوندونه سره لري او ځینې یې د ښه ژوند لپاره په اقتصادي چارو او د ماشومانو په ساتنه کې مرسته سره کوي. اوس راځو دې خبرې ته چې مور څنګه کولای شو خپلو ماشومانو ته سمې کړنې ور زده کړو؟ هغوی څه ډول او له کومه ځایه مهرباني اوزړه خوږی او نور اخلاقي ارزښتونه زده کوي؟ آیا داسې علمي طریقې شته چې کورنۍ وکولای شي د خپلو ماشومانو خصوصیاتو ته د شکل ورکولو لپاره ترینه کار واخلي دا هغه پوښتنې دي چې میندې او پلرونه د ښوونیزو او روزنیزو چارو د لارویانو او ښوونکو په ذهن کې تاویږي چې دې پوښتنو ته په ځوکړښو کې ځواب ویلای شو اخلاقي روزنه د کوچینوالي له هماغه لومړنیو کلونو څخه پیلیږي او انسان د اخلاقي روزنې په وړانګوکې له ناسمو چې زده کړه وکړي دا زده کوي چې څه ډول د زده کړې څخه ګټه پورته کړي که چیرې په یوکس کې دغه درې ګونې برخې تر سترګو شي نوموړی کس په اخلاقي روزنه باندې سمبال دی د داکتر مایکل بوریا له نظره د اخلاقي روزنې لپاره د کور چاپیریال یو ښه ښوونځی دی که څه هم دا موضوع د ماشوم د شخصیت د ودې په اړه باید ډیر اوږد او هر اړخیز وي خو هیله من یو چې د ماشومانو د شخصیت د ودې په اړه دا تر ټولو کوچنی او مختصر واړه ټکي زموږ میندې او پلرونه خپلو درندو مسوولیتونو ته متوجه کړي او خپل ماشومان هغه ډول چې د دوی او د ټولنې غوښتنه ده تربیه او روزنه ورته ورکړي تر څو زموږ جنګ ځپلی هیواد د پوه او هوښیارو ماشومانو په درلودلو سره چې پرته له شکه دوی به وي چې راتلونکی به یې په لاسونو کې وي په نږدې راتلونکي کې د پرمختګ لوړو پوړو ته ورسوي.پوهنې وزارت د یو با مسوولیت ارګان په توګه د دې تر څنګ...

(۲مخ)

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"
کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان عبدالصبور غفراني- سرمؤلف مرستیال عنایت الله عادل- محمد اکرم وفادار
خبریال: - محمد اشرف رسولي
کمپوز و ډیزاین بریالی رحمانزی
شمیر: ۵۰۰۰
دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت